MAKTABAT UL HARUM
مکتبة الحرم
Mohallah Jangi Peshawar Pakistan

د پنجشنبي ماسپښين

لیکوال

طالب العلم محمد علیم بسمل

مکتبة الحرم

محلہ جنگی پشاور
سردار پلازہ اکوڑہ خٹک
0300-9395919
0306-7616569

د پنجشنبې ماسپښین

وېناوال:

طالب العلم محمد علیم بسمل

ماسپښين
د پنجشنبې

وياوال طالب العلم محمدعليم بسمل

خپروونکی: مکتبة الحرم محله جنګي پېښور

دخپرېدولړ:١٥

دچاپکال: کب ١٣٩١لمريز

دچاپشمېر:١١٠٠

چاپځای: صافي علمي خپرندويه ټولنه

برېښناليك: hedayatullahsafi@yahoocom

دكتاب هرډول حقوق له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي

د تاريخ نقاش

د تاريخي پېښو د سرچينو د ناپييلتوب په اړه مناقشه ډېره زړه ده، تل اند ښنه دا وه، چې تاريخي دورې به د مورخ د حب يا بغض له امله کړې او ناسمې خوندي شي، خو يو څه چې تل مورخينو پرې تکيه کړې ده، د يوې ځانګړې دورې ادبي ميراث دی، ځکه ټول پر دې يوه خوله دي، چې ادبيات او هنرونه د يوه ولس او ټولنې د غوښتنو، هيلو، تجربو او ارمانونو د تجسم هينداره ده. زموږ د زمانې ډېر پټ رازونه به هم زموږ د معاصرو ادبياتو په هينداره کې کتل کيږي او په تېره بيا زما د ګران دوست ښاغلي مولانا بسمل شاعري، چې د دې ولس د ريښتينو عواطفو او ولولو يوه رښه هينداره ده، تر ډېره د همداسې يوه ارزښت خاونده شاعري ده.

کوم کافران، چې د اسلام سره په جنګ اخته دي
د طيارو تېل د کعبې منجوران ورکوي

ښايسته زلميان چې د قران په مقابل کې روزي
چې عهد ترې اخلي قسم هم په پاک قران ورکوي

زموږ د ولس ټوله قرباني، د پرديو لوبې او ناروا وې، د سياستلوبو ککړې پايلې، د عقيدې د تېکه دارو ځواکونو اصلي څېره ...ټول په همدې دوه بيتونو کې موندلای شئ. ريښتيا هم هغه الوتکې چې د کونړ، هلمند، لوګر او هر بل افغاني ولايت ماشوم وژني خپل تېل د

مبارکې قبلې د سپېڅلې زمکې له رګونو څخه را اخلي، همدا زما تاریخ دی او مولانا بسمل زما د تاریخ یو بریالی او سترګور نقاش دی. ما وویل نقاش، هو ځکه دی هنرمند دی، شاعر دی، دی د تاریخ عکاس ندی، بلکې تاریخ د خپل هنر په مټ نقاشي کوي، د ده په ژبنیو تابلو ګانو کې د دې عصر ډېرې چیغې، فریادونه او حقیقتونه لیدلای شئ، مولانا بسمل د خپلو سویو وزرونو له لوګي څخه سیاهي اخیستې، د خپلې مینې د رانجو رنګ یې پرې ګډ کړی، د خپل هردم شهید ولس له وینې سره یې ګډ کړی او د خپل تک شنه ماحول زرغونتیا یې ورته راپور کړې ده. بیا یې د خپلې سپینې سپېڅلې افغاني ګروهې او پوهې پر صفحه زموږ معاصر تاریخ انځور کړی دی.

دغه ژوند مو د فاسد لمانځه په څېر دی
دا به بیا را ګرځوو چې کراري شي
امن نشته د کفن دکان هم بند دی
مرګه موږ خپله درځو چې کراري شي
موږ خپل زړونه امانت له ښکلو اخلو
بیا یې بیرته ورکوو، چې کراري شي

مولانا بسمل افغان دی، مسلمان دی، یو عاطفي شاعر دی، په هره ملي پېښه دردېږي او خپل ارزښتونه پېژني، د داسې یو چا شاعري به خود د خپل عصر د تاریخ نقاشي وي، دده د ملي احساس دا تبلور وګورئ:

مونږه د امکان تر حده خپله ژبه نه پرېږدو
لمونځ به په پښتو نشي خو نیت یې په پښتو کوو

د بسمل شاعري له تکلف، تصنع او تکرار څخه پاکه ده، یو روڼ او

ښکلي نوښت پکې ځلېږي او د شاعر د جرات او صداقت استازيتوب کوي. کلونه کېږي، چې خپل دغه ملګري شاعر مې ندی لیدلی، خو په مشاعرو کې د هغه مخ پر ودې شاعري مې په یاد ده چې څنګه به له یوې ورځې تر بلې له خپلو نویو شاعرانه تجربو سره راهسکېده او کلام به یې هره ورځ نوې ځانګې غځولې.

له هغو کلونو را په دېخوا دېرې پېښې راغلې، تاریخ نور هم په وینو سور شو او د بسمل هېواد له نورو لوړو ژورو سره مخامخ شو. بسمل دې ټولو ته ځیر و او تاریخ یې حافظې ته سپاره، پېښې یې هضمولې او رنګونه یې ورځخه راخپلول، مینه یې کوله او د وینو شهادت یې اخیسته. دا دی له خپل کلیوال او ښکلي ژوند چاپېریال څخه یې د خپلو نقاشیو یوه ټولګه راچاپ کړې ده او غواړي د خپلو شعرونو د مینه والو تنده پرې ماته کړي، زموږ د زماني د رنګونو د دغه ځیرمن انځورګر پر ګوتو دې افرین شي او دا هڅه یې پښتو ادب ته د یوې ښکلې اضافې په توګه موږ او تاسو ته مبارک شه.

لوی خدای ج دې هغه ورځ ژر راولي، چې مولانا بسمل او د هغه د عصر نور شاعران د امن د بوډۍ تال څخه سوله ییز او ښکلا ییز رنګونه راواخلي او د خپلې مینې په زور د سولې، پرمختګ، مینې او هوساینې ژبنۍ تابلو ګانې زموږ مخې ته کېږدي.

د ملګرتوب او مینې په تودو سلامونو

ستاسو

خپړندوی عبدالغفور لېوال

۱۳۹۰ د سلواغې پېنځمه، کابل

د پنجشنبې ماسپښین

بسکـــه یاران در همین ویرانه ها گم گشته اند
می چکد اشکم ز چشم و خاک را بو می کـند

(بیدل)

له مرگه څخه یو ډول فطري ډار په هر انسان کې موجود وي، خو زه بیا ډېر ترې ډارېږم، که ربښتیا راباندې وایئ نو له هغو ځوانانو څخه نه یم چې وایي (یا ژوند د غیرت یا مرګ د شهادت) زه بیا داسې وایم، چې له بې غیرتـۍ څخه مې دې هم خدای وساتي، خو چې کله د مقررې نېټې مرګ تر ما پورې رارسیږي، خدای پاک دې شهادت کړي.
یوه ورځ په دسترخوان باندې د خدای ډول، ډول نعمتونه ایښي وو، خبره په خبرو راغله. یوه ملګري وویل چې خدای دې ما شهید کړي، ما په ټوکو ځواب ورکړ چې د خدای بنده په قبر کې خو داسې پلو او قورمه نشته، مګر کله کله دا تریخ مرګ راتـه خوږ شي لـه ځان سره وایم، چې کېدلی شي له ځنکدنه داسې خوند واخلم لکه د پنج شنبې ماسپښین. دا په دې چې په هدیره کې به د جمعې د شپې له اند یوالانو سره یو ځای شم.
د طالبي پـه دوره کـې مـې د پنجـشنبې لـه ماسپښینه د جمعـې تـر ماسپښینه ډېر سات تیر وو.

پنجشنبې ته به ځينو طالبانو کور شنبې ويله او په ښېښور کې به طالبانو چوټه جمعه بلله. په دغې ورځ سبق ته چنداني توجه نه کېده، زموږ يو ګپ شپي ملګری وو، هغه به چې چا ته ښېرا کوله ورته ويل به يې چې خدای دې داسې خوار کړه لکه د پنجشنبې سبق. دا نو زما د مستۍ او لېونتوب دوره وه. د شاعر د شخصي حالاتو ځرک په شعر کې ډېر ځرګند وي. ځکه ما په هغه وخت کې شوخ شعرونه ويل، کله به مې چې د خيال د رباب په تارونو ګوتې ټينګې کړې زړه به غږ راباندې وکړ:

د رباب کوزه پرده نيسه
د حجرې خوا ته جينکۍ راغلې دينه

کله به مې حوره له جنته راويسته او کله به زه هلته پسې ورغلم.

سوړ په وينو پروت وم په لحد کې او ته راغلې
زور دې کړمه حورې په مزه مزه په غيږ کې
در به شم جنت ته په اوبو کې به دې واچوم
زه به دې هم ونيسم لنده خيشته په غيږ کې

اوس که څه هم د هغه وخت عادت راپاتې دی د پنجشنبې له ماښامه تر سبا ماښامه ذهنا رخصت يم، له کتاب څخه مې ځان په قار نيولی وي خو د پنجشنبې د سبق په څېر خوار يم. نه هغه وخت شته او نه هم هغه انډيوالان، د زړه يوه ټوټه مې په بګرام او پل چرخي باندې رېبېږي او بله يې هم د ځوانيمرګو ملګرو په قبرونو.
د ژوند د اسمان په کونج کې لکه د سهار ستوری يوازې پاتې يم او يا لکه ويشتلې زاڼه چې له خپل کتاره پاتې وي په خپل وير اخته يم. د

جمعې شپه د زړه د زخمونو څراغونو ته سبا کوم.
د خونې څلور دېوالونه او د بيلتون شپې په غبرګو اوازونو دا ټپه را ته زمزمه کوي:
يارانو يو تر بل ځاريږئ
ما د مجلس ياران ليدل چې خاورې شونه

د دغې ټولګې شعرونه د همدغو شپو انځورونه دي. د داسې شپې انځور چې کله راروانه وي، زه شکه وايم چې يوه تيره رابانده رارغړي او زه يې تر لاندې کيږم. کله چې لمر د غرونو توره شړۍ په ځان راکش کړي ټول خلک د کورونو په طرف روان شي مګر ځيني کسان له کورونو ووځي. د روژې په مبارکه مياشت او د اوړي په اوږدو ورځو کې خلک ماښام ته خوشاليږي.
خو يو څه کسان بيا غواړي چې ورځ نوره هم اوږده شي، ځکه له ناارامه خوبونو څخه د روژې لوږه او تنده اسانه ده.
اوس په بامونو د سپوږمۍ د حورې شهيدان نه پريوزي. د ماشومو ستورو په منځ کې د بې پيلوټې بلا غوريږي.
که ما په دې ټولګه کې سترګې او شونډې نه وي ستايلي، ښکلي دې له ما ګيله نه کوي خپل قسمت ته دې ووايي چې:
نصيبه وسوځې ايرې شې
تنديه مات شې په تا څه ليکلي دينه

طالب العلم محمد عليم بسمل

حاجيان روغ لېونيان دي، زه دې داسې لېونی شم
چې غوڅ سر په خپل لاس کې له منا درته راځم

که سل ځل مې لبيک ته لا لبيک ووايې خدايه
زه بې له تا بل څوک نه لرم، بيا درته راځم

اُحد

د اُحد غر خو ژوندی دی د اُحد غر صحابي دی
پاک رسول يې دی ساتلی مجاهد دی انصاري دی

دا غر زړه لري مين دی مدينه کې يې جانان دی
په جانان باندې چې ګران و نو په موږ باندې هم ګران دی
د دنيا د فيض ډيوه ده جماداتو کې بلال دی
د خپل عشق له برکته له انسانه سره سيال دی
د قيامت په ورځ به پروت وي د جنت په دروازه کې
دی حساب زما په فکر عشره مبشره کې
حجر هم جنت ته بيايي، مدرهم جنت ته بيايي
د محبوب له مينې ځار شم چې غر هم جنت ته بيايي
خدايه کاشکې زما زړه هم يوه تيږه د اُحد وای
د اُحد د غره لمن کې زه هم تيږه د اُحد وای

کوم انسان چې ليونی شي. شي روان غرونو ته خيږي
زه بسمل ليونی نه يم خو اُحد ته مې زړه کيږي

د بام خوب

لکـــه ځنګـــه چـــې اســـمان کـــې امنيـــت دی
يـــو وخـــت داســـې پـــاس پـــه بام کـې امنيـت وو

پـــه هغـــه وخـــت کـــې لـــه ســـتورو ســـره ســـيال وم
تـــورې شـــپې او پـــه ماښـــام کـــې امنيـــت وو

څـــو ســـاعته بـــه پـــه خپلـــه خوښـــه مـــړ شـــوم
تـــر ســـهاره بـــه لـــه تـــولې دنيـــا لاړم

لنډې شـــپې دې تـــا تـــر دنګـــې ځـوانۍ ځـار شـم
څـــه پـــه خونـــد بـــه تـــا ســـره تـــر ســـبا لاړم

پـــه دې کلـــي کـــې لـــه ډېـــرې کـــرارۍ نـــه
د مـــزو او د خونـــدونو شـــور ماشـــور وو

د بـــاد تخـــت بـــه د ســـکون ســـليمان راوســـت
نـــه د جـــاز نـــه د ټـــانکونو شـــور ماشـــور وو

د خوب پیغله اوس لوېدلې له مستۍ نه
په مزه مزه مې نه نیسي په غېږ کې

اوس زموږ بام ته نه راځي ډاریږي
او یوه شیبه مې نه نیسي په غېږ کې

د اسمان د ستورو سترګې تکې سرې دي
سره اورونه یې له زړه نه راخوټیږي

وایي ولې په دې چم سرې مرمۍ اوري
دا بام بې بنداره څومره بد ښکارېږي

څه په خوند به سپوږمۍ رنګه بنګه راغله
جنتي غوندې شېبو کې لکه حوره

بیا به هم لوڅه لغړه ښکارېدله
په اویاوو حجابو کې لکه حوره

د شغلو په لونګین به یې وهلم
له مستۍ به یې سېزلم بې له اوره

ان تـر ډيره بـه يـې نـه پرېښـودم خـوب تـه
راتــه ويــل بــه يــې غرېــږه او راگــوره

اوس خــوب تــه ورځــي زمــا لــه انتظــاره
د اســمان پــه بــام ولاړه ده ځنگيــږي

رب دې داگلبشـره پـوه کـړي چـې طالـب يـې
د چـاپو لـه وجـې کـور کـې نـه ويـدېږي

• په بام ولاړه يم ځنگيږم
له خوبه نه يم د يار غم مې ځنگوينه

غزل

په دې ارزې چې سړی درپسې مات شي
چې په شرنګ لکه بنګړی درپسې مات شي

خوږه ژونده څومره تریخ دې تېر بدل دې
سړی کوږ شي او ژوندی درپسې مات شي

کله سر کله تندی کله زړه حسنه
باید هر ورځ یو شی در پسې مات شي

بې حضوره او بې کیفه سجدو تنګ کړم
خدایه کاشکې مې تندی درپسې مات شي

کړس او خرپ نه کوي شعر وایي له درده
چې بسمل لکه لرګی در پسې مات شي

غزل

شور قفس د عمر کې لپاره د وتو کوو
وار لکه بلبل د شپو او ورځو په پنجرو کوو

موږه د امکان تر حده خپله ژبه نه پرېږدو
لمونځ به په پښتو نه شي خو نیت یې په پښتو کوو

بس په دې دنیا یعنې د لارې جومات ګوټي کې
دوه رکاته ژوند د مجبورۍ په تکبیرو کوو

علم جهالت وخوت، عالم باروت راونښودل
چاته به ګیله له عقلمندو لېونو کوو

لاړل د بسمل د پنجشنبې د ماسپښین یاران
اوس به د جمعې شپه لکه شمعه په قبرو کوو

خولګۍ دې بده نه ده ګوزاره کوي جانانه
لېمې دې په قسم له سرې پورې ورې وزي

د ښکلو د ښو غشي په نورو تاثیر نه کړي
ملا خرابوي له صوفي پورې ورې وزي

چې ستا د وصال ځانګې رانژدې کړمه خپل ځان ته
اې ګله لاسو مې اغزي پورې ورې وزي

په نورو د خندا غشي بس څرښنده لګيږي
يوازې د بسمل له زړګي پورې ورې وزي

غزل

ژوندون لګيا دی اړوي را اړوي لاسو
ګډېږي نه د ماتم باد يې خوځوي لاسو

رڼا دې را نه وړه تياره دې نوره هم زياته ک
ځمکې ته راغلې له سپوږمۍ څخه خالي لاسو

اوس چې لاله ته وکيږي داغ يې په لمنه کې و
په اخرت کې ستا ګرېوان او د تکري لاسو

سقاط مې اخيستی ګلبشرې ته پرې ږدوده، اخل
اوس نه لاسونه بنګړي غواړي نه بنګړي لاسو

بانه د ښکلو هم ملګري ملتونه بوي
خوراک يې وينې دي په زړونو کې وهي لاسو

بسمله موږ ترې په هر ځل يو نوی ترنګ را با
د چا د زلفو تار ته نه وروړو چتې لاسو

د ژوند مجرم

خیر که ماشوم یمه او بیل یمه د مور له غیږې
بیرته به بیا دنیا ته را نه شم د گور له غیږې

له ناکرار افغانستانه هدیره کې ښه یم
د ژوند له ورځې د لحد په توره شپه کې ښه یم

دلته مې توپ او تیارې له خوبه نه ویښوي
هیڅ چورلکې مې د شپې له خوبه نه ویښوي

ژوندی مې نه کړې زه مړ ښه یمه جهان ته نه ځم
خدایه دارېږمه زه بیا افغانستان ته نه ځم

زموږ پر کور به غدی، پرېوځي تلاشي به راشي
د عــدالت قهرمانـــان خپــل او پــردي بــه راشــي

زمـا ليمـې او زمـا سـر بـه تـر پـښـو لانـدې كـړي
زمـا نـازک معصوم وجود بـه تـر موزو لانـدې كـړي

ډېر وارخطا وم د ژوند كور كې چې دا چيرته راغلم
ځكه مې ډېرې كمې شپې وكړې او بيرته راغلم

قيامـت دې نـه راځـي راتلـو تـه يـې تلـوار نـه كـړمـه
كه په خپل واک وم د ژوند جرم به تكرار نه كړمه

د وخت منافقین

په یوه ګوزار ماتیږي لکه خښتې
د یوه بل لاس ته لویږي لکه خښتې

د دې وخت منافقین دوه مخي نه دي
په شپږ اړخه ښکاره ګرځي لکه خښتې

دې بې سر او پښو مخلوق ته حیرانیږم
چې په هر طرف دریږي لکه خښتې

ضمیر وژني په لوی لاس ورته ماتیږي
چې کوم ځای کې نه ځاییږي لکه خښتې

نه پوهیږم سړی څه فتوا پرې وکړي
ځنې او مخ یې نه ښکاریږي لکه خښتې

د خپل ذهن او د فکر په قالب کې
خرڅیدلو ته جوړیږي لکه خښتې

په دنیا کې خو خام پاتې شول بسمله
په دوزخ کې به پخیږي لکه خښتې

قطعې

دوه مخو اشنايانو کې که څوک راباندې ګران وي
يـوازې او يـوازې ښـه کتـاب راباندې ګـران دی

يو بوی لرې چې ما باندې له مشکو ښه لګيږي
تـازه وي همېشـه چې تـر ګلاب راباندې ګـران دی

***

د خلکـو بـه جنـت حـورو غلمـان لپـاره خوښ وي
زما بيا په دې خوښ دی چې جګړه به په کې نه وي

بېغمـه بـه پر بـوځم او بېغمـه بـه خپـل سر ږدم
چـورلکې بـې پيلوټـه او چاپـه بـه پـه کې نـه وي

***

چې يې په دين باندې پښه کېښوده خپل نوم يې لوړ کړ
جهــاد يــې نـــه منــو او بيـــا ورتـــه رهبــر نـــه وايـــو

کـــافران نـــه يـــو لـــه خاينـــه خـــدای پـــاک ښـــه پېژنـــو
خـــو د هـــر چـــا تکبيـــر تـــه الله اکبـــر نـــه وايـــو

***

لکـه سپوږمۍ پـاس پـه اسمان کې ورځو شپو وخوړم
بـــد قسمتي ده د اوښـــانو پـــه شـــا ســـپو وخـــوړم

د شـهيد وينـو مـې رنـګ راوړ خـو زمـا پـه خـلاف
امســا مـې ماتـه مــار شــوه خپلــو معجزو وخــوړم

***

چــې خـــزان او غــم ځپلـــی درتـــه ښـــکارم
دا جـــدا د يـــار لـــه کلـــي او لـــه يـــار يـــم

کـــه همېش د پېښــور پـــه ځنـګ کې مېشت شم
ننګرهـــار غونـــدې بـــه تـــل ګـــل ګلـــزار يـــم

زورولـم چـا پـه خـښو چـا پـه ږیـره
نـه پـوهیږم چـې څـه چـل وو څـه کیسـه وه
کـه پـه خښـو وای جـواری بـه مجاهـد و
کـه پـه ږیـره وای وزه بـه القایـده وه

***

نیـوی نـه راکـوي خانـدي او راگـوري
لاس مـې نـه ور رسـي سـتوري د اسـمان دي
دومـره ډېـر یـې ځـورولی یـم بسـمله!
زه شـکه وایمـه چـې ښـکلي کـافران دي

***

د زنـې وار د زړه پـر شـاوخوا لگـي
مگـر لبمـې د ښـې منـځ ولـي
سـتا د ادا تـوپـک بـه څـوک چلـوي
کـه خـدای منـې د ښـې منـځ ولـي

***

مرگ

د ژوند په لار کې یې کمین نیولی
بسمله بیا به د چا خار لري
مرگ ماته ډېره شوخه پېغله ښکاري
تل له ځوانانو سره کار لري

ډېر مې خوښ یې پېښوره زړه مې نه درنه بېلېږي
تل شمشاد غونډې ولاړ یې د طورخم په دروازه کې
د ډیورنډ کرښې ښایسته کړې لا یې گران کړې په موږ باندې
خط پرمخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې *

* حمید مومند

پېښور جانان ته

زمـــا د مســـتې ملنگـــۍ او لېونتـــوب وطنـــه
زمـــا د ســـپينې مينـــې ځايـــه پېښـــوره يـــاره

پرېشان پروت يې سر دې ايښی د شمشاد په غېږ کې
ای لـــه پرديـــو او لـــه خپلـــو مـــروره يـــاره

د تـا د ښـار پـه کوم يـو گـوټ کې چې چاودنه کيـږي
يـــوه چـــره يـــې خامخـــا زمـــا پـــه زړه لگيـــږي

ستا تـوده غېـږه بـه پـرې نـږدم د رقيب لـه قصده
مرگـی مـې لـږي خـو د تـا بيلتـون مـې نـه لگيـږي

د خـدای لـه کـوره مـو بـلا مـوده پښـه نیـولې
د خپـل مـولیٰ نـه خفـه نـه یـو امنیـت خـراب دی

پـه جومـاتو کـې تکبیـر اورو خـو خطـر هـم وینـو
د اخـرت پـه بـازارو کـې هـم حالـت هـم خـراب دی

شوه مـو لـه خدای سره خبـر پـه نیمـایي کـې پـاتې
ښکلي لمونځونـه مـو رنګین شول د زړګـي پـه وینو

شول مو پـه خولـه کې تسبیحات لکه ګل پاڼې پاڼې
سپینې سجدې مو تکې سرې شوې د تندي پـه وینو

عبـد الرحمان بابـا بـه خـود روحـاني کـډه کـوي
چـې پـه لحـد او هـدیرو کـې هـم چـاودنې کیـږي

د ښـه سـړي قبـر بسـمله د جنـت روضـه وي
نـن پـه جنـت د پښـتنو کـې هـم چـاودنې کیـږي

غزل

پښتو تا به نازوو چې کراري شي
تا ملا ته ودوو چې کراري شي •

دغه ژوند مو د فاسد لمانځه په څېر دی
دا به بیا راګرځوو چې کراري شي

امن نشته د کفن دکان هم بند دی
مرګه موږ خپله درځو چې کراري شي

موږ خپل زړونه امانت له ښکلو اخلو
بیا یې بیرته ورکوو چې کراري شي

پېښې باد او مونږه څانګې یو بسمله!
چتمې دا هلته که و چې کراري شي

غـزل

خوله د پی مخو چې خولې شي په رښتیا خوند کوي*
خدای چې شودو سره اوبه ګډې کړي لا خوند کوي

چې لـه مکتـب او مدرسې نـه رخصتیږي ځنګـه
بـس همد غسې تـګ لـه دې فـانې دنیـا خونـد کـوي

شـېخه! زمـا دا مشـوره ده چې خپـل نفس مـه وژنـه
که دې خپل ځان لږ را ژوندی کړ نو همدا خوند کوي

واده هم ناوې تـه خوږ مرګ دی شهادت غونډې دی
دا قربـانـي کـه پـخپـل زړه وشـي نـو لا خونـد کـوي

بسمله! مـرګ هغـه مبلمـه ده چې دې کـور تـه راشـي
کـه ښکلی هـم وي پـه دویمه ورځ یې شا خوند کوي

---

* د غزل مطلع د درویش درانی د لاندې بیت ځواب او یا تفسیر دی:
چې د پی مخو په مخ باندې خوله وینم وایم
ګوره قدرت هـم د شیدو سره اوبه ګډوي

د ښکلو سترګو کې به شاید د لیزر شعاع وي
او به او به یې کړي چې چا ته یو سترګګ ووهي

که قیامت غواړې اسرافیله شپیلۍ مه پو کوه
حورې ته وایه چې دنیا ته یو سترګګ ووهي

جانان دې ما باندې ځان دم کړي چې نظر یې نه کړم
په شکرانه کې دې بیا ما ته یو سترګګ ووهي

حالات ترینګلي دي څوک میني ته زړه نه ښه کوي
ملا بسمله! سړی چا ته یو سترګګ ووهي

نڅاګرې ته

څومره قدمونه دې خالي میدان کې واخیستل
راشه څو ګامونه د مولی په لوري هم واخله

ګرانې نڅاګرې یو سپېڅلی مزل پیل کړه
یو څو قدمونه د مولی په لوري هم واخله

خاورې شه او بیا د انسانیت په طرف ګام واخله
تاوه شه راتاوه شه له خپله ځانه ووځه

تن دې دلې پربرده او خپل روح په نڅا راوله
مسته شه ګرد باد غوندې له ټول جهانه ووځه

تـــا وزرونـــه ووهـــل وا نـــه لـــوتې راولوېـــدې
ماتـه شوې را ماتـه شوې تـر خپلـو پښـو لاندې شـوې

دا نه د ښـکرو شرنگ دی او نه ستا د گنگرو شرنگ دی
تـــه د هوســـونو تـــر نـــاولو پښـــو لانـــدې شـــوې

گرانـــې لـــه دنيـــا نـــه بـــه خـــالي لاسونه لاړه شـــې
ســـتړې شـــوې او هـــره خـــوا چتـــې لاســـونه غـــورزوې

باد د مرگ بـه راشي گرانـې ځانگـې بـه دې مـاتې کړي
اوس خـو يـو ځـو ورځـې لـه مستـۍ لاسـونه غـورزوې

راشـه لـه هـوا نـه او د خپـل فکـر پـه بـام کېنـه
خپلـې زلفـې دام کـړه يـه کفتـرې ځـان دې ونيســه

ولـې پخپـل ځـان لکـه چپـه ميچنـه تـاوه شـوې
ځـان سـره حسـاب وکـړه او خپـل گرېـوان دې ونيســه

کوم کافران چې د اسلام سره په جنګ اخته دي
د تیارو تېل د کعبې منجوران ورکوي

ښایسته زلمیان چې د قران په مقابل کې روزي
چې عهد ترې اخلي قسم هم په پاک قران ورکوي

غـزل

د وره پـه خولـه کـې يـوه خولـه راکړه ښايستـه جانانـه
وظيفــه را وړه خـــدای دې وبښــه راځــه جانانــه

کـافرې زلفـې دې خـدای پـوه کـړه چـې طالـب يمـه زه
کــه يــوه شـپه رابانـدې واچـوې چاپــه جانانــه

لمر چې راخيژي نو پـه هغه وخت کـې مـونځ مکروه وي
چـې پـه راتلـو دې خـدای تـه نـه کـوم سـجده جانانـه

ښکلي وړوکې وي کـه لوی وي مـوږ زکـات تـرې اخلو
شـات نصـاب نلـري هـر وخـت کـې وي پـوره جانانـه

بسمل بـه مـړ شي او نمبر بـه يې بيـا کـار نـه کـوي
اوس کلــه کلــه يــو مســکال ورتــه کــوه جانانــه

ګران همايون هېواد ته!

زړګی مې بل چاته ورکړی دی، ببښنه غواړم
جانان مې نه يې خو جانان غوندې مې ښه ابسېږې

هېواد مې نه يې زما ګرانه همايونه اشنا
خو د خپل ګران افغانستان غوندې مې ښه ابسېږې

حسن ته خدای کاشکې زړه او سترګې هم ورکړې وای
د پره مې سودا ده چې له چاسره بې* مینه وه

زړه په زړه اینه ده خو دې تا سترګې زړه نیلري
زړه یې که درلودای نو له ما سره بې مینه وه

عشق که ادم زاد وی لوګری به و، ملا به و
نوم به یې بسمل و، له هر چا سره بې مینه وه

---

* (بې) د به یې مخفف دی او د شعري ضرورت په پار یې همدا رنګه لیکل او ویل جایز دي.

چې طريقت او پيري کله ميراثه غوندې شي
تصوف هم د تجارت يوه پېشه غوندې شي

غواړي چې خلک يې احترام وکړي او لاس يې ښکل کړي
د خانقا خادم اخر صاحبزاده غوندې شي

چې تبليغيان يې ببستره کې دربه درګرځوي
دين به بې قدره شي داعي به بنجاره غوندې شي

که د دنيا علم او کسب ته هم فرض ووايو
کافر به هم د انبياوو، ورثه غوندې شي

که د ملا سره معلوم نکړو د خپل سر خالق
ژوند به خپل کوږ کړي سرسايه به کرايه غوندې شي

له شهيدانو نه به وباسي خرمن بسمله!
د قرباني پوست که امام ته هم اجره غوندې شي

د هلال غوږ دې اسمانه لاندې ځمکې ته مه نيسه
خدای که داسې خبر واورې چې زړګی دې پرې خوشال شي

که زما منې ماشومه بيرته څه له دې دنيا نه
دلته داسې خبر نشته چې سړی دې پرې خوشال شي

ليوني کړو اې بسمله د قدرت او دولت مينې
انسانان ازاروو چې د نفس سپی دې پرې خوشال شي

غزل

هر نا اشنا ښکلی مې چې مخې ته راغلی دی
ځیرشم زه شکه وایمه چې چیرته مې لیدلی دی

ځان یې چې یوسف باله دنیا یې زلیخا ښوده
نن د هر یوه گریوان له مخې نه شکېدلی دی

اوس چې په کوم ځای کې مخامخ شو سره پېژنو
کلي او جومات ته مو مرگ زښته ډېر راغلی دی

سم په کې کښېننا ستو په ډار د لوېدو لار وهو
ژوند لکه موټر موړ تر شا ځان پسې نیولی دی

یو خال یې په زنه د پای ټکي په څېر ایښی دی
حسن بس بسمله په دې پای ته رسیدلی دی

د ښامار په ټک به هغه دم ایرې شم
ختموي مې که لېوه دی که زمري دی

که مې سپي وداړي بیرته بیا رغیږم
ځکه وایمه چې سپی د پر ښه سړی دی

ښبېرا

پروردګار خو دې رندې کړه دغه غبرګې سترګې
چې بيا د چا لـه زړه نـه پـورې ورې وونـه وزي

چې بيا يې هيچا تـه پـه مينـه مينـه وانـه ړوي
او بيـا زمـا لـه زړه نـه پـورې ورې ونـه وزي

چې دې زمـا د مـړ زړګـي پـه قبر بلـې نـه کـړې
مړې دې شي ستا د سرو او سپينو اننګيو ډيوې

چې د بيلتـون شپې تـه يـې نـه راوړي پخپلـه خوښـه
مـولى دې تتـې کـړي د ښـکلو د ککيـو ډېوې

د سـپينې خـولې ګـل ګـلاب دې مـولى ورژوه
چې سم ونـه خاندې بيـا څـوک لـه کـاره ونـه باسي

ستا د ښکلا سوپر طاقت دې ذوالجلال صفر کړي
چې بیا هیڅوک د پېښور له ښاره ونه باسي

زه چې په تا دعوه لرم یو څه خبر خو به وي
سړی چتې پتې په چا پورې ځان نه ښلوي

چې هوا را نشي په غېږ کې یې راپورته نکړي
خاورې خځلې په هوا پورې ځان نه ښلوي

ښکلو د خدای د پاره دغه عادت پرېږدئ زیاتې
چې سړی ځنګه لیونی کړي په میدان یې پرېږدئ

سړی په ځان باندې مین کړي نیم بسمله یې کړي
د څو خبرو او د سترګو په ارمان یې پرېږدئ

په دې ګناه باندې مې مه نیسه مجبور یمه زه
خدایه چې تا ته هم ونه ژاړم نو څنګه وکړم

نوی مین یمه جانان له چا غوښتلی نه شم
چې یې له تا نه هم ونه غواړم نو څنګه وکړم

د دیدن غلا له غمې ږیرې سره خوند نه کوي
دا ناروا له غتې ږیرې سره خوند نه کوي

خدای د هر چا په زړه کې ایښې ده د ښکلو مینه
خو د ملا له غمې ږیرې سره خوند نه کوي

جنت کې ږیره نشته حورې شته عشق شته ځکه چې
غېږ کې لیلا له غمې ږیرې سره خوند نه کوي

په لویه لار کې د اشنا په انتظار کېناستل
بسمله! ستا له غمې ږیرې سره خوند نه کوي

شهیده گلبشره

ژوند د واورو په کفن کې راوریږي
له اسمانه زړه نازړه راښکته کیږي

ډیر پیریان دي دلته دا سیمه درنه ده
نه! پیریان نشته د مرګ ډار دی جګړه ده

څکه هر څوک لیوني غوندې ښکاریږي
لیوني نه! پیریاني غوندې ښکاریږي

چې په سپین کفن د واورو کې پرته ده
زما د ګران وطن شهیده ګلبشره ده

سیمې مړې ښکاري او غرونه لکه قبر
خوشحالی شهیدې زړونه لکه قبر

د تبې په سر تنها ناست يم ژړيږم
د شهيد جانان له غمه ويلې کېږم

مجلس نشته د يارانو توخانه کې
ځوک ورک شوي او ځوک پروت دی جېلخانه کې

پنجشنبې د ماسپښين مزه دې لاړه
د حجرې د ماسپښين مزه دې لاړه

خبر اوبنکې کړم ګرېوان سره غږېږم
د جمعې په شپه له ځان سره غږېږم

چې په چا باندې د ږ ګرم وې زړګيه
سږ کال ژمی هغه نشته ليونيه

يو څو بيتونه

د زړه مبايل مې په هجران کې انتن نه ورکوي
زه چې د يار له ځنګه نه يم له ساحې خارج يم

***

زه چې مجرد وم سربښندنې ته حاجت نه وو
ښځه مې چې وکړه نو جهاد هم فرض عين شو

***

ودې کړوي او بيا احسان هم په تا واړوي
ښکلو دا عادت له سوله ساتو نه زده کړې دی

***

انسانان ټول د يو پلار د يوې مور زامن دي
موږ افغانان د انسانانو ميرنې ورونه يو

***

مسافر مړ دی داسې مړ چې ژوندی کېږي بيرته
پرېښې بې دی د ګور جهان تر يوه وخته پورې

***

*هسې هم په غزل کې يو يا دوه بيته انتخاب وي. شاعر غالباً بيت الغزل پورې مطلع او مقطع ورتپي. ما دېر بيتونه ويلي وو خه مې غزل کړل پورته بيتونه رانه غزل نه شول د دې لپاره چې رانه هېر نشي يوازې مې راوړل.

فدايي حمله مې ستورو نه زده کړې
ځان تو ټو ټې کوم او شيطان وژنم

***

تکل مې کړی خپله کډه هديرې ته وړمه
په ټول وطن کې يو په دې کلي چاپه لويږي

***

مور زما نيمايي روح ده که يې زه د زړه ټوټه يم
چې په کوم غړي يې درد شي هم هغه ځای مې خوږيږي

***

ځه مې چې درلودل ټول دې ختم کړل
يو سترګک دې وواهه فارمټ دې کړم

***

زه په تندي کې د بخت دومره کريډيټ نلرم
چې له نذير* سره يو څو دقې خبرې وکړم

* نذير احمد نذير ځوان شاعر او د بنده مخلص ملګری

هایکوګانې

بسمل چې پیل کړي د مینې کرکټ
د زړګي بال یې ورنه مس غوندې شي
چې بیټ ته ودرېږي انډه راوړي

چې له لوګر نه مې غړه اوږده کړم
په پیښور کې یار نه خوله اخلمه
د خیال پیریانو ته غزني څه شی دی

ملګرو نن داسې بې خیره وخت دی
چې په مانځه کې دې خولۍ ولوېږي
خدای که یې بیرته څوک په سر درکېږدي

غزل

په تا پروت هره غرمه وي د یار سیوری
په ما کړی دی د مرګ انتظار سیوری

په اوږو مې د ژوند لاس داسې دروند پروت دی
لکه پروت په کوم مجرم وي د دار سیوری

ونې هسې دې پرې خانګې کړې راټیټې
په یتیم نه شي کولی د پلار سیوری

د دېوال د احسان لاندې مې هم مه کړې
خدایه مه مې کړې هیڅ وخت کې په کار سیوری

بعضې خلک خدایزده ولې اې بسمله
غرمه لمر له خدایه غواړي سهار سیوری

غزل

دي زمـوږه اوښـکې پـاکې، پـاکول يـې پـه کـار نـه دي
دا پـه دا چې تـل جاري وي نـو مينځـل يـې پـه کار نـه دي

د فرض مرگ جمعه ولاړه! زه وروستني رکات نيوی شم*
زنـده گـي موکـد سـنت ده، پريکـول يـې پـه کـار نـه دي

اوس له خدايه هم دا غواړو چې پښتون شي يا تاجك شي
چې زمـوږ د ملـت نـه وي نـو منـل يـې پـه کـار نـه دي

پردی حق د پير خوراك دی، خو دا بحث همدلته پرېږده
چې خبـره شـوه مـرداره، ښـورول يـې پـه کـار نـه دي

جنـگ د سـترگو اې بسـمله لکـه جنـگ د اصـحابانو
دواړه لـوري پـه حق بويـه، گرمـول يـې پـه کـار نـه دي

---

* دغه خيال له هغې فقهي مسلې اخيستل شوی دی چې که يو څوك پر سنتو ولاړ وي او د فرض مانځه لپاره قامت وويل شي، دغه سړی نه شي کولی، چې د فرضو لپاره له سنتو سلام واړوي. دوه رکاته يا څلور رکاته سنت دې وکړي او بيا دې په امام پسې اقتدا وکړي. د غزل مطلع د هغې استسقا جواب دی چې وايي:

اوښکې ناولې دي که ولې
زما په خيرې گرېوان تلې مونځ مې کاوونه

غزل

ستا په مخ کې د جمعې د شپې تاثیر دی
ستا نظر د درودونو یو بهیر دی

په مونځونو کې تاخیر یو څه په کار وي
عاشقي کې که ګناه ده نو تاخیر دی

شمال غواړي د ظالم حسن کور رنګ کړي
مګر خپله تورو زلفو کې راګیر دی

زړه که ملک وي، ښه اخلاق یې باچا بویه
زړه که غرې وي نو بس حسن یې پیر دی

چې هر ځای وي یاره تاته به راجع وي
بسمل ستا یو منفصل غوندې ضمیر دی

پای



DESIGNING: AHMAD ART
CELL:03139859154

MAKTABAT UL HARUM
Mohallah Jangi Peshawar Pakistan.

د هر دول چاپ لو مړنئ اداره

مکتبة الحرم

محلہ جنگی پشاور
سردار پلازه اکوړه خټک
0300-9395919
0306-7616569

زیر اهتمام
طالب العلم فضل الرحمن حیدری
حافظ عین الدین ابراهیمی